


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# عبدالحفيظ « مليار ـ ساپی »

د نشرنيته : 14 اکتوبر 2025 ميلادی

# اخلاق!

اخلاق د ايمان پوښ دې پرې ايمان ښکلی ښکارېږي
خوږو خوږو لفظونو کې جانان ښکلی ښکارېږي

په عجز او فقيري سره انسان نوراني ښکارې
والله په انسانيت سره انسان ښکلی ښکارېږي

ډيوې دارمانونو به دې بلې وي په قبر
په پاک ارمان چې لاړ شي قبرستان ښکلی ښکارېږي

د زړه الفت دې ناز غواړي نازونو کې يې ساته
په زړه کې چې دې مينه وي دا ځان ښکی ښکارېږي

بشر ته احترام لره شاعر حفيظ ملياره
ډيوې د علم بلې شي جهان ښکلی ښکارېږي

***

عبدالحفيظ « مليار »

بيرته تګ اصلی صفحې ته ــ www.said-afghani.org